پوهنتون ملي

Mili University

# پوهنتـــون ملی




# د ملي پوهنتـــون
# معلومـــاتـي کتـــاب

۱۴۰۵ لمریز

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده‌کړو وزارت

ملي پوهنتون



# د ملي پوهنتون معلوماتي کتاب

# کتاب معلوماتی پوهنتون ملی

۱۴۴۸ هـ ق- مطابق - ۱۴۰۵ هـ ش


بسم الله
الرحمن
الرحيم

## دکتـــــــــاب‌پەاړه:


| | |
|---|---|
| د اثر نوم: | د ملي پوهنتون معلوماتي کتاب |
| ترتیبوونکی: | د علمي چارو معاونیت |
| د ډیزاین چارې: | د نشراتو او فرهنګي چارو څانګه |
| د چاپ شمېر: | ۵۰۰ ټوکه |
| د چاپ کال: | ۱۴۰۵ لمریز |
| وېب‌پاڼه: | www.mili.edu.af |
| برېښنالیک: | info@mili.edu.af |

# د پـوهنتـون د رييـس پيغـام

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم!

په ډېرې خوښۍ سره د ملي پوهنتون د علمي برنامو معلوماتي کتاب (کتلاګ) ستاسو حضور ته وړاندې کوو. دا کتاب د پوهنتون د هغو علمي او مسلکي برنامو هر اړخيز معلومات رانغاړي چې زمور د هېواد د بشري ځواک د روزنې او د ټولنې د اړتياوو د پوره کولو لپاره طرحه او پلي شوي دي. ملي پوهنتون له خپل تأسيس راهيسې د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو او نړيوالو علمي معيارونو په رڼا کې د کيفيت لرونکو لوړو زده‌کړو د وړاندې کولو ژمنه کړې ده. زمور موخه يوازې د علم انتقال نه دی، بلکې د داسې متخصصو، متعهدو، نوښتګرو او اخلاقي کادرونو روزل دي چې د هېواد د پرمختګ، سوکالۍ او دوامدارې ودې لپاره اغېزمن رول ولوبوي. اوس مهال پوهنتون د طب معالجوي، ستوماتولوژۍ، حقوقو او سياسي علومو، فارمسي په برخو کې معياري علمي پروګرامونه وړاندې کوي. په دغو پروګرامونو کې د معياري نصاب، مسلکي استادانو، عملي زده‌کړو، څېړنې او نوښت تر څنګ د محصل‌محوره تدريس اصل ته ځانګړې پاملرنه شوې ده، تر څو زمور فارغان د کار بازار او ټولنې اړتياوو ته په بشپړه توګه چمتو وي. دغه معلوماتي کتاب د هر پوهنځي د موخو، نصاب، د داخلې شرايطو، علمي امکاناتو، د فراغت شرايطو او مسلکي فرصتونو په اړه اړين معلومات وړاندې کوي، ترڅو راتلونکي محصلين وکولای شي د خپلو علمي او مسلکي هيلو له مخې مناسب انتخاب وکړي. زه د ملي پوهنتون د مشرتابه، استادانو او اداري کارکوونکو په استازيتوب ژمنه کوم چې د علمي کيفيت د لوړولو، څېړنې د پياوړتيا، نوښت د ودې او د محصلينو د هراړخيز پرمختګ لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړو. په پای کې، د الله تعالی له درباره غواړم چې زمور ټولې علمي هلې ځلې د هېواد او ولس د خدمت وسيله وګرځوي او زمور محصلين د علم، تقوا، اخلاقو او مسلکي وړتياوو له پلوه د ټولنې لپاره ګټور شخصيتونه وګرځوي.

والسلام

**پوهندوی خالد احمد حبيب**

**د ملي پوهنتون رئيس**

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**نحمده ونصلي على رسوله الكريم، أما بعد!**

حمد او ثنا هغه ذات لره ده چې د علم په رڼا يې د انسان د فکر تيارو ته روښانتيا وربخښلې، د پوهې او معرفت دروازې يې پرانيستې او انسان ته يې د پرمختګ، کمال او بريا لارې هوارې کړې دي. علم او پوهه د هرې ټولنې د پرمختګ، هوسايني او دوامدارې ودې اساس جوړوي. هغه ملتونه چې د څېړنې او معياري زده‌کړو د پياوړتيا لپاره دوامدارې هڅې کوي، کولای شي د خپلو بشري ظرفيتونو په روزلو، د ټولنې د ستونزو په علمي حل او د هېواد د راتلونکي په جوړولو کې اغېزمن رول ولوبوي. له همدې امله، د لوړو زده‌کړو نهادونه يوازې د مسلکي افرادو د روزنې مرکزونه نه دي، بلکې د علمي فکر، څېړنې، نوښت او ټولنيز مسؤليت د روزنې مهم مرکزونه هم ګڼل کېږي.

ملي پوهنتون د همدې علمي رسالت او ملي مسؤليت پر اساس هڅه کوي چې د هېواد ځوان نسل ته د معياري لوړو زده‌کړو زمينه برابره او داسې علمي او مسلکي کادرونه وروزي چې د هېواد د پرمختګ، آبادۍ او هوسايني په بهير کې رغنده ونډه واخلي. پوهنتون د تدريس ترڅنګ علمي څېړنې، مسلکي ظرفيت لوړونه، علمي کنفرانسونه، سيمينارونه، ورکشاپونه او له بېلابېلو علمي او متحد المنافع ادارو سره د همکاريو پراختيا د خپلو مهمو فعاليتونو په توګه تعقيبوي. دا معلوماتي کتاب د ملي پوهنتون د علمي او تحصيلي مسير، پوهنځيو، علمي برنامو، علمي کادر غړو، څېړنيزو فعاليتونو، فزيکي او علمي امکاناتو، همکاريو او نورو مهمو فعاليتونو لنډ او منظم انځور وړاندې کوي. په دې کتاب کې هڅه شوې چې د پوهنتون د اوسني وضعيت او ترسره شوو فعاليتونو په اړه معلومات په داسې بڼه وړاندې شي چې د محصلينو، استادانو، څېړونکو، علمي او اداري نهادونو، ملګرو او نورو علاقه‌مندانو لپاره ګټور او د باور وړ معلوماتي مرجع وګرځي. ملي پوهنتون باور لري چې د علمي نهادونو ريښتيني پرمختګ د کيفيت، نوښت، څېړنې، مسلکي ژمنتيا او دوامدارې هڅې له لارې رامنځته کېږي. له همدې امله، ملي پوهنتون هڅه کوي چې د معاصرې نړۍ له علمي بدلونونو سره همغږی، د زده‌کړې او څېړنې کيفيت لا لوړ او د خپلو محصلينو او استادانو لپاره د علمي ودې مناسب چاپېريال رامنځته کړي. هيله ده چې دا معلوماتي کتاب د ملي پوهنتون د فعاليتونو او لاسته‌راوړنو په پېژندنه کې ګټور تمام شي او د دې علمي اداري د راتلونکو پرمختګونو، موخو او خدمتونو لپاره د لا زياتو هڅو او همکارۍ زمينه برابره کړي.

## د پوهنتون لنډه پېژندنه

ملي پوهنتون د هېواد د يو شمېر علماوو، علمي کادرونو او ملي سوداګرو له لورې د ځوان نسل د علمي ظرفيتونو د لوړوالي او په ټوله کې د هېواد د هوساينې او د ټولنې د علمي کچې د لوړولو په موخه، پر کال ۱۳۹۱ لمريز د لوړو زده‌کړو وزارت په اډانه کې په فعاليت پيل وکړ.

په لومړيو کې يې د فعاليت له پيل سره د طب او حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو کې محصلين جذب کړل خو په ۱۳۹۲لمريز کال کې يې د ستوماتولوژي پوهنځي جواز هم ترلاسه کړ او د درېيم پوهنځي په توګه اضافه شو چې تر ننه پورې خپلې چارې مخ ته وړي. همدا شان ملي پوهنتون وکولای شو چې په ۱۴۰۴ لمريز کال کې د فارمسي پوهنځي جواز ترلاسه کړي چې پر کال ۱۴۰۵ لمريز يې د اختصاصي کانکور له لارې لومړۍ دوره محصلان جذب کړ، د خوښۍ ځای دی چې پر کال ۱۴۰۵ لمريز يې د لوړو زده‌کړو وزارت د علمي برنامو د انکشاف رياست څخه د کمپيوټر ساينس پوهنځي تاييدي هم ترلاسه کړه، چې د مصنوعي ځيرکتيا او سايبري امنيت دوه ډيپارټمنټونه لري، له دې دې سره ملي پوهنتون د (۵) پنځو پوهنځيو او (۷) اوو علمي برنامو لرونکی پوهنتون کېږي چې د هيواد او هېوادوالو لپاره په علمي او تحصيلي ډګر کې د تل په شان خدمات وړاندې کوي او لا هم ځليږي.

د هېرولو نه‌ده، چې په پيل کې دا خصوصي نهاد د (ملي لوړو زده‌کړو موسسې) له نوم سره رامخې ته شو، خو د لوړو زده‌کړو محترم وزارت د ( ۱۴۴٦/۱۱/۱۳ هـ ق ) نېټې، (۴۵۹۰) ګڼه وړاندیز او د ۱.۱.۱ قدرمن مشرتابه د (۱۴۴۷/۰۲/۱۵هـ ق) نېټې (۹۹۰/۳۴۷) ګڼه حکم پر اساس، د لوړو زده کړو مؤسسې کلمه رسماً پوهنتون ته تبديل شوه.

## لیدلوری او ماموریت


### لیدلوری

ملي پوهنتون غواړي، د تدریس، څېړنو او د متخصصو او متعهدو کادرونو د روزنې له لارې، په ملي او سیمه‌ییزه کچه، د یو معتبر تحصیلي بنسټ په توګه وپېژندل شي.

### ماموریت

ملي پوهنتون د داخلي او نړۍ‌والو معیارونو مطابق د تحصیلي، تدریسي او څېړنیزو خدماتو په وړاندې کولو او د عصري ټکنالوژۍ په کارولو، معیاري او مناسبو تحصیلي خدماتو ته زمینه برابروي، ترڅو علمي او مسلکي کادرونه وروزي او ټولنې ته د خدمت مصدر وګرځي.






## د پوهنځيو پېژندنه

### د معالجوي طب پوهنځی

د معالجوي طب پوهنځی د ملي پوهنتون له تأسيس (۱۳۹۱هـ ش) سره هم‌مهاله خپل علمي او تحصيلي فعاليتونه په رسمي ډول پيل کړل. د دغه پوهنځي اساسي موخه د معاصرې طبي پوهې، عملي مهارتونو او مسلکي اخلاقو پر بنسټ د وړ، متخصصو، متعهدو او مسوولیت‌پذیرو طبي کادرونو روزنه ده، څو د هېواد د روغتيايي نظام د اړتياوو په پوره کولو او د ټولنې د روغتيا د ساتنې او پرمختګ په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي. پوهنځی د خپل فعاليت په لومړۍ دوره کې د کانکور د ازموينې له لارې ۹۰ تنه

ګډون‌وال درلودل، چې له دې ډلې ۳۴ تنه د لوړو زده‌کړو لپاره واجد شرایط وپیژندل شول او په رسمي ډول يې خپلې زده‌کړې پیل کړې.

د ملي معالجوي طب پوهنځي تحصیلي پروګرام د لوړو زده‌کړو وزارت له منظور شوي نصاب سره سم تنظیم شوی دی. دغه پروګرام د نظري او عملي زده‌کړو ترڅنګ، د درېیو سمسترونو اجباري کلینیکي ستاژ په ګډون، ټولټال څوارلس سمسترونه تحصیلي موده لري. محصلان د تحصیل په لومړیو پړاوونو کې د پاراکلینیکي مضامینو د نظري او عملي زده‌کړو لپاره د پوهنتون له مجهزو لابراتوارونو څخه ګټه اخلي. د کلینیکي مضامینو په پړاو کې بیا محصلان د عملي او سیکل زده‌کړو د ترلاسه کولو لپاره هغو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو ته معرفي کېږي چې له پوهنتون سره يې د علمي او عملي همکاریو هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي دي.

د پوهنځي درسي بهیر د نظري پوهې او عملي زده‌کړو ترمنځ د متوازن ارتباط پر بنسټ ولاړ دی، څو محصلان د طبي علومو له اساسي مفاهیمو سره یوځای د ناروغانو د معاینې، تشخیص، درملنې، روغتیایي خدمتونو او کلینیکي پرېکړو اړین مهارتونه هم ترلاسه کړي. د معالجوي طب پوهنځی د خپل علمي او تحصیلي بهیر د تنظیم لپاره له دوو غیر فارغوونکو دیپارتمنتونو پاراکلینیک دیپارتمنت او کلینیک دیپارتمنت څخه جوړ شوی دی.

طب پوهنځی د مجربو او مسلکي استادانو له علمي ظرفیت څخه په ګټې اخیستنې هڅه کوي چې محصلانو ته د معاصرې طبي زده‌کړې مناسب چاپېریال برابر کړي. د طبي زده‌کړو یوه مهمه برخه عملي او کلینیکي روزنه ده. د همدې لپاره، د معالجوي طب پوهنځی له بېلابېلو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو سره د علمي او عملي همکاریو هوکړه‌لیکونه لري. د دغو همکاریو له لارې محصلانو ته زمینه برابره شوې چې د نظري زده‌کړو ترڅنګ، په واقعي کلینیکي چاپېریال کې خپلې مسلکي وړتیاوې پیاوړې کړي

د یوه کلن اجباري ستاژ په ترڅ کې محصلان خپلې عملي او کلینیکي تجربې لا پیاوړې کوي او د مسلکي ژوند لپاره لا ښه چمتو کېږي. د معالجوي طب پوهنځی د تدریس ترڅنګ، د علمي ودې، مسلکي ظرفیت لوړونې او د معاصرې طبي پوهې د پراختیا لپاره څانګړې پاملرنه کوي. د هېواد د غوره طبي کادرونو له خوا د څانګړو علمي سیمینارونو او روزنیزو پروګرامونو په ترسره کولو سره، محصلانو ته د معاصرو طبي موضوعاتو د زده‌کړې او د خپلو علمي افقونو د پراخولو زمینه برابره کړې ده.

اوس مهال په دغه پوهنځي کې شاوخوا ۶۸۰ محصلان په زده‌کړو بوخت دي چې د مجربو او مسلکي استادانو له خوا روزل کېږي. د پوهنځي یو شمېر فارغان د تخصصي زده‌کړو په پړاو کې په کادري روغتونونو کې خپلې مسلکي او تخصصي زده‌کړې پر مخ وړي، په داسې حال کې چې یو شمېر نور يې

د هېواد په مهمو روغتيايي ادارو کې د مسلکي دندو مسوولیتونه ترسره کوي. همدارنګه، ګڼ شمېر محصلان اوس مهال په علمي طبي مرکزونو او تدریسي روغتونونو کې خپلې ستاژ دورې بشپړوي او د فراغت په درشل کې دي. د معالجوي طب پوهنځی خپل رسالت د علمي پوهې، عملي مهارتونو، مسلکي اخلاقو او ټولنیز مسوولیت له مخې د داسې طبي کادرونو په روزنه کې ویني چې د هېواد د روغتیایي نظام اړتیاوو ته مناسب ځواب ووایي.

## د ستوماتولوژي پوهنځی

د ملي پوهنتون د ستوماتولوژۍ پوهنځی په ۱۳۹۲ هـ.ش کال کې، د هغو متعهدو، مسلکي او متخصصو ستوماتولوژي ډاکټرانو د روزنې په موخه تأسیس شو چې د علمي او عملي مهارتونو ترڅنګ، د داخلي او نړیوالو معیارونو له مخې د معیاري روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو وړتیا ولري.

دغه پوهنځی د پنځه کلن تحصیلي پروګرام، چې له لسو سمسترونو څخه جوړ دی او د یوه کلن اجباري کلینیکي ستاژ (Clinical Internship) له بشپړولو وروسته، محصلان د ستوماتولوژۍ د طب ډاکټر (Doctor of Dental Medicine – DMD) په علمي درجه فارغوي. په دغه پوهنځي کې تدریسي بهیر د نظري پوهې، عملي زده‌کړو، کلینیکي روزنې او د شواهدو په اساس د تدریس پر اصولو ولاړ دی. محصلان په مجهز تدریسي کلینیک او معیاري لابراتوارونو کې، د مجربو علمي کادرونو تر لارښوونې او څارنې لاندې، د ناروغیو د تشخیص، د درملنې د پلان‌جوړونې او د ستوماتولوژۍ د بېلابېلو کلینیکي پروسیجرونو د ترسره کولو اړین علمي او عملي مهارتونه ترلاسه کوي.

د پوهنځي درسي نصاب د علمي او مسلکي پرمختګونو، د معاصرې ستوماتولوژۍ د اړتیاوو او د هېواد د روغتیایي نظام د اړتیاوو په پام کې نیولو سره، په دوامداره توګه ارزول، بیاکتل او نوي کېږي. دغه بهیر د دې زمینه برابروي چې محصلان د معاصرې ستوماتولوژۍ له نویو علمي موندنو، تخنیکونو او مسلکي معیارونو سره سمې زده‌کړې ترلاسه کړي. د ستوماتولوژۍ پوهنځی له دوو اساسي دیپارتمنتونو، کلینیک او پاراکلینیک، څخه تشکیل شوی دی. دغه دیپارتمنتونه په همغږۍ سره د اساسي، پاراکلینیکي او کلینیکي علومو د تدریس بهیر پر مخ وړي. همدارنګه، همدارنګه په ستوماتولوژي پوهنځي کې د مجهزو لابراتوارونو، تدریسي کلینیک، کتابتون، مجهزو درسي ټولګیو او له معتبرو روغتیایي مرکزونو سره د علمي همکاریو له لارې، محصلانو ته د عملي زده‌کړو او مسلکي وړتیاوو د پیاوړتیا مناسب فرصتونه برابر شوي دي. د ستوماتولوژۍ پوهنځی یوازې د مسلکي زده‌کړو پر وړاندې‌کولو بسنه نه کوي، بلکې علمي څېړنې، نوښت، د زده‌کړو د کیفیت لوړونه او د علمي ظرفیتونو پراختیا هم د خپلو اساسي فعالیتونو له ډلې ګڼي. دغه پوهنځی د تخصصي کمېټو، څېړنیزو فعالیتونو، علمي ورکشاپونو او

علمي همکاريو له لارې هڅه کوي چې د زده‌کړو کيفيت په دوامداره توګه لوړ کړي او داسې وړ، مسوولیت‌پذیر، مسلکي او ټولنې ته ژمن د ستوماتولوژي ډاکټران وروزي چې د هېواد د روغتیايي نظام د اړتیاوو په پوره کولو او د ټولنې د روغتیا په پرمختګ کې اغېزمن رول ولوبوي.

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د لوړو زده‌کړو د یوه علمي او مسلکي نهاد په توګه د حقوقي او سیاسي علومو په برخو کې د وړ، متخصصو، متعهدو او مسوولیت‌پذیرو بشري کادرونو د روزنې اساسي رسالت پر غاړه لري. دغه پوهنځی هڅه کوي چې محصلانو ته د معاصرې حقوقي او سیاسي پوهې ترڅنګ، د علمي تحلیل، انتقادي تفکر، څېړنې، مسلکي اخلاقو او د حقوقي او سیاسي ستونزو د علمي حل وړتیاوې وروزي. د پوهنځي تحصیلي پروګرامونه د حقوقو، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو اړوند اساسي او تخصصي موضوعاتو ته شاملیت ورکوي.

محصلان د خپل تحصیلي بهیر په ترڅ کې د حقوقي نظامونو، قوانینو، مدني او جزایي حقوقو، نړیوالو حقوقو، نړیوالو اړیکو، ډیپلوماسۍ او نورو اړوندو برخو په اړه معیاري علمي زده‌کړې ترلاسه کوي. د تدریسي پروګرامونو موخه دا ده چې محصلان له نظري پوهې سره یوځای د عملي کار لپاره هم چمتو شي. پوهنځی د تدریس ترڅنګ، علمي څېړنې، مسلکي بحثونو، علمي سیمینارونو او د حقوقي او سیاسي موضوعاتو په اړه د علمي تفکر پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کوي. محصلانو ته د څېړنې او د حقوقي او سیاسي مسایلو د ارزونې فرصتونه برابرېږي، څو وکولای شي د هېواد او سیمې د حقوقي، سیاسي او ټولنیزو تحولاتو په اړه علمي لیدلوری رامنځته کړي. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو علمي فعالیتونو له لارې هڅه کوي داسې کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي چې د شریعت حاکمیت، عدالت، بشري حقونو، ملي ګټو، ټولنیز ثبات او مسوولیت‌پذیرۍ پر ارزښتونو باور ولري او وکولای شي په امارتي او غیر امارتي ادارو، عدلي او قضایي نهادونو، نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو، څېړنیزو مرکزونو او نورو مسلکي برخو کې په اغېزناکه توګه خدمت وکړي.

دغه پوهنځی د مسلکي اخلاقو پر بنسټ د داسې علمي چاپېریال رامنځته کولو ته ژمن دی چې محصلان پکې د خپل علمي استعداد د ودې ترڅنګ، د هېواد د حقوقي او سیاسي نظام د پیاوړتیا او د ټولنې د پرمختګ لپاره لازمې وړتیاوې ترلاسه کړي. د پوهنځي اساسي موخه د داسې مسلکي او متعهدو کادرونو روزنه ده چې د قانون حاکمیت، عدالت او د ټولنې د هوساینې په تأمین کې رغنده رول ولوبوي. د ملي پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ملي پوهنتون د تأسیس (۱۳۹۱ هـ ش) له لومړۍ ورځې راهیسې د پوهنتون په چوکاټ کې د دوو ډیپارټمنټونو (حقوقو او نړیوالو اړیکو) له لارې علمي

خدمتونه وړاندې کوي. تر اوسه پورې د حقوقو ډیپارټمنټ پنځلس دورې او د نړۍوالو اړیکو ډیپارټمنټ اووه دورې فارغان، له نارینه او ښځینه محصلانو څخه، ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي دي. دغه پوهنځی دا مهال دوه فارغورکوونکي ډیپارټمنټونه (نړیوالې اړیکو دیپارتمنت – حقوقو دیپارتمنت) او یو غیر فارغورکوونکی ډیپارټمنټ (د اسلامي ثقافت دیپارتمنت) لري، چې د علمي او ښوونیزو موخو د تحقق لپاره فعالیت کوي.

## د فارمسي پوهنځی

د ملي پوهنتون د علمي او تحصیلي پراختیا په لړ کې، د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت د علمي برنامو د پراختیا محترم ریاست له لوري په ۱۴۰۴ لمریز کال کې د فارمسي پوهنځي د ایجاد جواز په رسمي ډول منظور شو. د فارمسي پوهنځي ایجاد د پوهنتون د تحصیلي پروګرامونو د پراختیا او د روغتیایي علومو په برخه کې د علمي فعالیتونو د لا پیاوړتیا لپاره یوه نوې مرحله رامنځته کوي.

د فارمسي پوهنځی په پام کې لري چې د مسلکي اخلاقو او ټولنیز مسوولیت پر اساس داسې وړ او متعهد درمل‌جوړوونکي وروزي چې د هېواد د روغتیایي سکتور په بېلابېلو برخو کې په اغېزناکه توګه خدمت وکړي او د درملو د خوندي، مؤثر او معقول استعمال، د روغتیایي خدمتونو د کیفیت د لوړولو او د ټولنې د روغتیا د ساتنې او پرمختګ په برخه کې رغنده رول ولوبوي.

اوس مهال د فارمسي پوهنځی د خپلو علمي او تحصیلي فعالیتونو د تنظیم او د مسلکي زده‌کړو د لا ښه وړاندې کولو په موخه له دوو اساسي غیر فارغ ورکونکو ډیپارټمنټونو څخه جوړ شوی دی: ۱. د فارماسیوتیک او فارماکولوژي ډیپارټمنټ دغه ډیپارټمنټ د درملو د جوړښت، تولید، فارمسیوتیکي بڼو، د درملو د اغېزو او د درملو د کارونې اړوند اساسي او تخصصي موضوعاتو تدریس او علمي څېړنې پر مخ وړي. محصلان د درملو د فارمسیوتیکي ځانګړتیاوو، د درملو د عمل میکانیزمونو، د درملو د اغېزو او جانبي عوارضو او د درملو د مناسب او خوندي استعمال په اړه اړینه علمي پوهه ترلاسه کوي. ۲. د فارماکوګنوزي او فارمسي کیمیا ډیپارټمنټ: دغه ډیپارټمنټ د درملیزو نباتاتو او طبیعي درملیزو موادو، د درملو د کیمیاوي جوړښت، پېژندنې، تحلیل او کیمیاوي ځانګړتیاوو اړوند موضوعات تر خپل علمي پوښښ لاندې راولي. محصلان د طبیعي درملیزو سرچینو، موادو، کیمیاوي مرکباتو او د درملو د کیفیت د ارزونې په اړه بنسټیزه او تخصصي پوهه ترلاسه کوي. پوهنځی هڅه کوي چې د معاصرې داروسازۍ له علمي پرمختګونو سره سم، د تدریس، عملي زده‌کړو او څېړنې مناسب چاپېریال رامنځته کړي او داسې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي چې د درملو د کیفیت، خوندیتوب، اغېزمنتیا او معقول استعمال په برخه کې مسلکي وړتیا ولري.

## د کمپیوټر ساینس پوهنځی

په داسې نړۍ کې چې ټکنالوژي د انسانانو د ژوند د بدلون اساسي محرک ګرځېدلې ده، د کمپیوټر ساینس زده‌کړې د ټولنې د پرمختګ او د راتلونکي نسل د مسلکي وړتیاوو په لوړولو کې مهم رول لري، ملي پوهنتون د همدې اړتیا درک کولو او د معاصرې ټکنالوژۍ پرمختګونو ته په پام، پر ۱۴۰۵ لمریز کال د لوړو زده‌کړو وزارت د علمي برنامو د انکشاف ریاست له لوري، د کمپیوټر ساینس پوهنځي تاییدي هم ترلاسه کړه، دغه پوهنځی د مصنوعي ځیرکتیا او سایبري امنیت دوه ډیپارټمنټونه لري چې محصلانو ته به د ټکنالوژۍ د دوو مهمو او مخ پر ودې برخو د زده‌کړې زمینه برابروي.


مصنوعي ځیرکتیا د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د کار او تولید د طریقو په بدلون او د چارو په چټکتیا کې مهمه ونډه لري، په همدې ډول سایبري امنیت د ډیجیټلي سیستمونو او برېښنایي خدمتونو د ساتنې لپاره حیاتي اهمیت لري، په افغانستان کې د ډیجیټلي خدمتونو د پراختیا او د ادارو له برېښنایي کېدو سره د دغو برخو مسلکي کادرونو ته اړتیا هم ورځ تر بلې مهمه کېږي، د کمپیوټر ساینس پوهنځي له ایجاد څخه د ملي پوهنتون موخه هم همدا وه، چې د ټولنې د دې اړتیا د پوره کولو لپاره د مسلکي مهارتونو د ترلاسه کولو زمینه برابره کړي.

د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې زده‌کړې محصلانو ته د معاصرو ډیجیټلي حللارو او د معلوماتو د اغېزناکې کارونې وړتیا ورپیاوړې کولای شي او د سایبري امنیت زده‌کړې داسې متخصصین روزي، چې د معلوماتو د خوندیتوب او د سایبري ګواښونو د پېژندلو په برخه کې کار وکړی شي، په دې توګه دغه پوهنځی د یوې داسې مسلکي ټولنې په رامنځته کولو کې ونډه اخیستلای شي چې د ټکنالوژۍ له فرصتونو څخه په اغېزمنه توګه ګټه واخلي او له اړوندو ګواښونو سره د مقابلې وړتیا ولري.

د کمپیوټر ساینس پوهنځي رامنځته کول په حقیقت کې د راتلونکي لپاره پر پوهه، تخصص او نوښت پانګونه ده، ملي پوهنتون په دې اقدام سره د هغو علمي ظرفیتونو د پراختیا په لور ګام اخلي چې د ډیجیټلي عصر غوښتنو ته ځواب ووایي او ځوان نسل د نوې ټکنالوژۍ د زده‌کړې او اغېزناکې کارونې لپاره چمتو کړي، دا پوهنځی د پوهنتون د علمي پراختیا او د یوې داسې راتلونکې لپاره فرصت دی چې په‌کې پوهه، ټکنالوژي او مسلکي وړتیاوې، ټول د ټولنیز پرمختګ لاملونه شي.

## د پوهنتون اداري تشکيلاتي جوړښت

ملي پوهنتون اوس مهال په خپل تشکيل کې عمومي رياست، د علمي چارو معاونيت، د محصلانو چارو معاونيت، د اداري چارو معاونيت، د څېړنې او علمي مجلې رياست، د معالجوي طب پوهنځي رياست، د ستوماتولوژي پوهنځي رياست، د فارمسي پوهنځي رياست، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي رياست او مشاوريتونه لري، چې هره يوه اداره بيا په خپل تشکيل کې مستقيم او غيرمستقيم اداري ټرون لري، چې د لا وضاحت لپاره يې لاندې جدول او د کارمندانو لېست کتلی شئ:




### د پوهنتون د ټولو کارمندانو او علمي کادر غړو پېژندنه

| نوم | بست | تحصيلي درجه | تجربه | د بست درجه |
|---|---|---|---|---|
| پوهندوی خالد احمد حبيب | عمومي رييس | ماستر | ۱۳ کاله | فوق بست |
| پوهندوی مولوي سيدالرحمن | حقوقي سلاکار | ماستر | ۱۵ کاله | فوق بست |
| استاد محمد حنيف معاذ | علمي مرستيال | ماستر | ۱۰ کاله | ۱ |

| نوم | بست | تحصيلي درجه | تجربه | د بست درجه |
|---|---|---|---|---|
| انجنير محمد زبير سرورزی | مالي او اداري مرستيال | لېسانس | ۵ کاله | ۱ |
| انجنير منصور نيازی | محصلانو معاون | لېسانس | ۵ کاله | ۱ |
| ن. پوهنيار نصير احمد لطيفزی | د معالجوي طب پوهنځي رييس | لېسانس | ۵ کاله | ۲ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پوهنیار بشیراحمد حبیب | ستوماتولوژي پوهنځي رییس | DMD/ لیسانس | ۵ کاله | ۲ | پوهنیار وکیل احمد ابراهیمي | د کلینیک دیپارتمنت آمریت | DMD/ لیسانس | ۴ کاله | ۳ |
| قاري رحمت الله اکرام | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رییس | ماستر | ۵ کاله | ۲ | پوهنیار عبدالحی هاشمي | د طب پوهنځي استاد | MD / متخصص | ۳ کاله | ۴ |
| عزیز احمد فضلي | د څېړنې او علمي مجلې رییس | ماستر | ۵ کاله | ۲ | پوهنیار هدیت الله بهین | د استادانو چارو آمر | ماستر | ۸ کاله | ۳ |
| پوهنوال محمد ایوب اواب | د اسلامي ثقافت دیپارتمنت آمر | ماستر | ۱۵ کاله | ۳ | پوهنیار سرفراز خان | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۱ کال | ۴ |
| احمد زبیر فرمان | د کیفیت لوړاوي آمر | لېسانس | ۶ کاله | ۳ | پوهنیار علي حسین سدوزی | د ستوماتولوژي پوهنځي استاد | لېسانس | ۵ کاله | ۴ |
| پوهنیار ربیع الله ربنتین | د حقوقو دیپارتمنت آمر | ماستر | ۸ کاله | ۳ | پوهنیار عبدالحق عابد | د حقوقو پوهنځي استاد | ماستر | ۳ کاله | ۴ |
| پوهنیار صدرالدین فیضي | د خلاقیت او کارموندنې مسوول | ماستر | ۳ کاله | ۴ | پوهنیار علی سینا کریمی | د ستوماتولوژي پوهنځي استاد | لېسانس | ۱ کال | ۴ |
| ن. پوهنیار محمد خالد صدیقي | د پارا کلینیک دیپارتمنت آمر | لېسانس | ۴ کاله | ۳ | پوهنیار سید ماهرالله سادات | د ستوماتولوژي پوهنځي استاد | لېسانس | ۱ کال | ۴ |
| عبدالوحید باري | د کلینیک دیپارتمنت آمر | MD/ متخصص | ۴ کاله | ۳ | ن. پوهنیار عبدالله اکبري | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۱ کال | ۴ |
| پوهنیار سیف الله | د ستوماتولوژي پوهنځي استاد | لېسانس | ۱ کال | ۴ | حمیدالله نایل | د اسلامي ثقافت استاد | ماستر | ۶ کاله | ۴ |
| پوهنیار حزب الله | د ستوماتولوژي پوهنځي استاد | لېسانس | ۱ کال | ۴ | پوهنیار مسیح الله محمدي | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۴ کاله | ۴ |
| ن. پوهنیار همایون حبیبی | د ستوماتولوژي پوهنځي استاد | لېسانس | ۳ کال | ۴ | ن. پوهنیار محمد صادق حلیمزی | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۳ کاله | ۴ |
| انوارالحق شمس | د مشوره دهي او اولیه کمکونو مرکز مسوول | ماستر | ۵ کاله | ۴ | پوهنیار مجیب الرحمن | د پارا کلینیک دیپارتمنت آمر | لېسانس | ۲ کاله | ۴ |
| ذبیح الله صالح | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۳ کاله | ۴ | پوهنیار فردین آصفي | د طب پوهنځي استاد | لېسانس | ۳ کاله | ۳ |
| پوهنیار بیت الله زاهدی | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۳ کاله | ۴ | پوهنیار ذکي الله عرفان | د طب پوهنځي استاد | MD/ لیسانس | ۳ کاله | ۴ |
| ن. پوهنیار محمد فیصل | د فارمسي پوهنځي استاد | PharmD/لیسانس | ۱ کال | ۴ | پوهنیار عبد الرقیب | د فارمسي پوهنځي استاد | PharmD/لیسانس | ۱ کال | ۴ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پوهنيار اصيل خان | د فارمسي پوهنځي استاد | PharmD/ليسانس | ۱ کال | ۴ |
| پوهنيار مدثر درويش رجا | د فارمسي پوهنځي استاد | PharmD/ليسانس | ۱ کال | ۴ |
| پوهنيار سيد ابراهيم درويشيان | د څېړنې امر | دوکتور | ۱۰ کاله | ۳ |
| نظر محمد افغان | د نشراتو او فرهنګي چارو آمر | لېسانس | ۷ کاله | |
| عبدالصبور هادي | د تدارکاتو او اداري چارو امر | لېسانس | ۵ کاله | ۳ |
| عبدالباعث عادل | د مالي چارو امر | لېسانس | ۵ کاله | ۳ |
| حسن همدرد | د محصلانو چارو امر | لېسانس | ۵ کاله | ۳ |
| سبحان الله ظاهرزی | د ډيټابيس امر | لېسانس | ۷ کاله | ۳ |
| رضوان الله صديقي | د حاضرۍ او استخدام مدير | لېسانس | ۶ کاله | ۴ |
| اقرار الله اکبري | د فارغانو مدير | لېسانس | ۴ کاله | ۴ |
| احمد جان سلطاني | د محصلانو مدير | ماستر | ۴ کاله | ۴ |
| لايق شاه شينواری | د طب پوهنځي تدريسي مدير | لېسانس | ۸ کاله | ۴ |
| عبدالفهيم نظري | د کيفيت لوړوني مدير | لېسانس | ۵ کاله | ۴ |
| هدايت الله همدرد | د معلوماتو مدير | لېسانس | ۳ کاله | ۴ |
| محمد ادريس خالد | د ترانسپورت مدير | لېسانس | ۱ کال | ۵ |
| محمداګل الکوزی | د ډيپو مدير | لېسانس | ۳ کاله | ۵ |
| عبادالله سرورزی | د فزيکي کتابتون مدير | لېسانس | ۲ کاله | ۵ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| محمد اسماعيل کريمي | د کارکوونکو چارو عمومي مدير | لېسانس | ۴ کاله | ۴ |
| صديق الله ضياء | د دفتر عمومي مدير | لېسانس | ۴ کاله | ۴ |
| شفيع الله راشد | د خدماتو عمومي مدير | لېسانس | ۶ کاله | ۴ |
| قيس احمد شاداب | د کتابتون عمومي مدير | لېسانس | ۳ کاله | ۴ |
| حامدالرحمن شهاب | د لابراتوارونو عمومي مدير | لېسانس | ۳ کاله | ۴ |
| اجمل خان مندوزی | د علمي مجلې مدير | ماستر | ۳ کاله | ۴ |
| عبدالرحمن رحماني | له روغتونونو سره د اړيکو مدير | ماستر | ۴ کاله | ۴ |
| نورالله مهمند | د حقوقو پوهنځي تدريسي مدير | لېسانس | ۴ کاله | ۴ |
| علي حيدر | مالي مدير | لېسانس | ۶ کاله | ۴ |
| ذبيح الله احمدزی | ازموينو مدير | لېسانس | ۵ کاله | ۴ |
| تميم جان نيازی | د ستوماتولوژي پوهنځي تدريسي مدير | لېسانس | ۸ کاله | ۴ |
| محمد اسحاق مشکور | د عامه اړيکو او فرهنګي چارو مسوول | لېسانس | ۴ کاله | ۴ |
| شفيق الله ترکی | لابرانټ | لېسانس | ۵ کاله | ۴ |
| امرالدين | د حقوقي کلينيک او ديپلوماسي کلوپ مدير | لېسانس | ۸ کاله | ۴ |
| شمس الرحمن | مالي کارکوونکی | لېسانس | ۲ کاله | ۵ |
| عبدالحميد | د ډيټابيس کارکوونکی | لېسانس | ۳ کاله | ۵ |
| شفقت | د مالي امريت همکار | لېسانس | ۴ کاله | ۵ |

## د ملي پوهنتون د کمېټو او شوراګانو نومونه

ملي پوهنتون اوس مهال د خپلو اداري او علمي چارو د مخته وړلو او رغنده تصاميمو د نيولو په موخه (۳) شوراګاني او (۱۱) کمېټې لري:

- د پوهنتون علمي شورا
- اداري شورا
- رهبري شورا
- د کيفيت لوړاوي کمېټه
- د نصاب کمېټه
- د آزموينو کمېټه
- د تقرر او انفکاک کمېټه
- د برېښنايي زده کړو کمېټه
- د ستراتيژيک پلان د تطبيق او څار کمېټه
- د علمي څېړنو کمېټه
- د محصلانو کمېټه
- د فرهنګي او نشراتي چارو کمېټه
- د مالي - داخلي تفتيش کمېټه
- د نظم او دسپلين کمېټه

## د ملي پوهنتون درسي وخت (تيوري او عملي)

| شمېره | پوهنځی | د تيوري درس وخت | د عملي کار/ درس وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | معالجوي طب | ۸ – ۱۲ سهار | ۸ – ۱۲ سهار |
| ۲ | ستوماتولوژي | ۸ – ۱۲ سهار | ۸ – ۱۲ سهار |
| ۳ | حقوق او سياسي علوم | ۴-۷ وروسته له وخته | ۴-۷ وروسته له وخته |
| ۴ | فارمسي | ۸- ۱۲ سهار | ۸- ۱۲ سهار |

## د ملي پوهنتون د پوهنځيو اړوند نصابونو جدولونه

## د معالجوي طب پوهنځي نصاب

| اول سمستر | | | | | دوهم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | تيوري | عملي | جمله | شماره | مضمون | تيوري | عملي | جمله |
| ۱ | فزيک طبی | 2 | 1 | 3 | ۱ | اناتومي | 3 | 1 | 4 |
| ۲ | کيميا | 2 | 1 | 3 | ۲ | هستولوژي | 2 | 1 | 3 |
| ۳ | بيولوژی | 2 | 1 | 3 | ۳ | بيولوژی | 2 | 1 | 3 |
| ۴ | انګليسي | | 3 | 3 | ۴ | کيميا | 2 | 1 | 3 |
| ۵ | کمپيوټر | | 1 | 1 | ۵ | انګليسي | | 3 | 3 |
| ٦ | کمک های اوليه | | 2 | 2 | ٦ | کمپيوټر | | 1 | 1 |
| ۷ | بيوفزيک | 1 | 1 | 2 | ۷ | د اسلام عبادتی نظام | 2 | | 2 |
| ۸ | د اسلام اعتقادی نظام | 2 | | 2 | ۸ | سيرت | 2 | | 2 |
| ۹ | تلاوت او تجويد | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| جمله | | 10 | 11 | 21 | جمله | | 13 | 8 | 21 |

| دريم سمستر | | | | | خلورم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | تيوري | عملي | جمله | شماره | مضمون | تيوري | عملي | جمله |
| ۱ | اناتومی | 3 | 1 | 4 | ۱ | اناتومي | 3 | 1 | 4 |
| ۲ | هستولوژی | 2 | 1 | 3 | ۲ | فزيولوژی | 3 | 1 | 4 |
| ۳ | فزيولوژی | 3 | 1 | 4 | ۳ | بيوشيمی | 3 | 1 | 4 |
| ۴ | بيوشيمی | 2 | 1 | 3 | ۴ | مايکروبيولوژی | 3 | 1 | 4 |
| ۵ | ايمبريولوژی | 2 | | 2 | ۵ | ايميونولوژی | 1 | 1 | 2 |
| ٦ | جنيتيک | 1 | | 1 | ٦ | فکری پوهنه | 2 | | 2 |
| ۷ | د اسلام اخلاقی نظام | 2 | | 2 | ۷ | اديان او مذاهب | 1 | | 1 |
| ۸ | ټولنيز نظام | 2 | | 2 | | | | | |
| ۹ | | | | | | | | | |
| جمله | | 17 | 4 | 21 | جمله | | 16 | 5 | 21 |

| پنځم سمستر | | | | | شپږم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | تيوري | عملي | جمله | شماره | مضمون | تيوري | عملي | جمله |
| ۱ | فزيولوژی | 2 | 1 | 3 | ۱ | پتالوژی | 2 | 1 | 3 |
| ۲ | پتالوژی | 3 | 1 | 4 | ۲ | داخله عمومی | 3 | 1 | 4 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | مایکروبیولوژی | 1 | 1 | 2 | ۳ | جراحی عمومی | 3 | 1 | 4 |
| ۴ | داخله عمومی | 3 | 1 | 4 | ۴ | فارمکولوژی | 2 | 1 | 3 |
| ۵ | جراحی عمومی | 3 | 1 | 4 | ۵ | اخلاق طبابت | 1 | | 1 |
| ٦ | د اسلام سیاسی نظام | 2 | | 2 | ٦ | صحت عامه | 1 | 1 | 2 |
| ۷ | د اسلام اداری نظام | 2 | | 2 | ۷ | پرازیتولوژی | 2 | | 2 |
| ۸ | | | | | ۸ | د اسلام اقتصادی نظام | 1 | 1 | 2 |
| جمله | | 16 | 5 | 21 | جمله | | 15 | 6 | 21 |

| اووم سمستر | | | | | اتم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | تیوري | عملي | جمله | شماره | مضمون | تیوري | عملي | جمله |
| ۱ | داخله عمومی | 3 | 1 | 4 | ۱ | داخله عمومی | 3 | 1 | 4 |
| ۲ | جراحی عمومی | 3 | 1 | 4 | ۲ | جراحی عمومی | 3 | 1 | 4 |
| ۳ | فارمکولوژی | 2 | 1 | 3 | ۳ | فارمکولوژی | 1 | 1 | 2 |
| ۴ | پتالوژی | 2 | 1 | 3 | ۴ | انتانی او توبرکلوز | 3 | 1 | 4 |
| ۵ | رادیولوژی | 1 | 1 | 2 | ۵ | ولادی | 1 | | 1 |
| ٦ | ولادی | 1 | | 1 | ٦ | رادیولوژی | 1 | 1 | 2 |
| ۷ | صحت عامه | 1 | 1 | 2 | ۷ | صحت عامه | 1 | 1 | 2 |
| ۸ | قرآن او معاصر علوم | 2 | | 2 | ۸ | اسلامی تمدن | 2 | | 2 |
| جمله | | 15 | 16 | 21 | جمله | | 15 | 6 | 21 |

| نهم سمستر | | | | | لسم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | تیوري | عملي | جمله | شماره | مضمون | تیوري | عملي | جمله |
| ۱ | داخله عمومی | 1 | 1 | 2 | ۱ | داخله عمومی | 1 | 1 | 2 |
| ۲ | جراحی عمومی | 3 | 1 | 4 | ۲ | گوش و گلو | 2 | 1 | 3 |
| ۳ | نسایی | 1 | 1 | 2 | ۳ | اورتوپیدی | 1 | 1 | 2 |
| ۴ | جلدی | 2 | 1 | 3 | ۴ | داخله عصب | 1 | 1 | 2 |
| ۵ | داخله اطفال | 1 | 1 | 2 | ۵ | ولادی | 1 | 1 | 2 |
| ٦ | نوزادان | | 1 | 1 | ٦ | داخله اطفال | 3 | 1 | 4 |
| ۷ | انستیزی | 1 | 1 | 2 | ۷ | جراحی عصب | 1 | 1 | 2 |
| ۸ | اپیدمیولوژی | 1 | 1 | 2 | | جراحی اطفال | 1 | 1 | 2 |
| ۹ | احصایه | 1 | | 1 | | میتودولوژی تحقیق | 1 | | 1 |
| جمله | | 11 | 8 | 19 | جمله | | 12 | 8 | 20 |

| یوولسم سمستر | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | تیوري | عملي | جمله | شماره | مضمون | تیوري | عملي | جمله |
| ۱ | چشم | 2 | 2 | 4 | | | | | |
| ۲ | یورولوژی | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| ۳ | عقلی | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| ۴ | اورتوپیدی | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| ۵ | طب عدلی | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| ٦ | مونوگراف | | 4 | 4 | | | | | |
| ۷ | صحت عامه | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| ۸ | مواد مخدر | 1 | | 1 | | | | | |
| ۹ | علوم رفتاری، علوم صحی و پلان خانوادگی | 1 | 1 | 2 | | | | | |
| جمله | | 9 | 12 | 21 | | | | | |

## د طب پوهنځي ستاژ

| شماره | دوره های آموزشی ستاژ | | | مدت (هفته) | ستاژران | | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | English | پښتو | دری | | اناث | مذکر | |
| 1 | Internal Medicine (3Departments) | داخله (۳ ديپارتمنت) | داخله (سه دیپارتمنت) | 15 | 15 | 15 | قلبی و تنفسی، هضمي و کليوی، اندوکراين، هماتولوژی و روماتولوژی |
| 2 | Abdominal Surgery | د بطن جراحی | جراحی بطن | 5 | 5 | 5 | |
| 3 | Thoracic Surgery | د صدری جراحی | جراحی صدر | 2 | 2 | 2 | |
| 4 | Urology | يورولوژی | یورولوژی | 2 | 2 | 2 | |
| 5 | Neurosurgery | د اعصابو جراحی | جراحی عصب | 2 | 2 | 2 | |
| 6 | Emergency Surgery | بيړنۍ جراحی | جراحی عاجل | 5 | 5 | 9 | برای ستاژران مرد دوره آموزشی نسائی و ولادی (۹ هفته) به بخش جراحی عاجل معاوضه گردیده است. |
| 7 | Obstetrics & Gynecology | د زيږون او ښځينه ناروغی | امراض نسايي و ولادی | 4 | 4 | ندارد | |
| 8 | Ophthalmology | د سترګو ناروغي | امراض چشم | ۲ | ۲ | ۲ | |
| 9 | Internal Pediatrics | د ماشومانو داخله | داخله اطفال | ۵ | ۵ | ۵ | |
| 10 | Ear, Nose and Throat (ENT) | غوږ، ستونی، او پوزې ناروغي | امراض گوش، گلو و بینی | ۲ | ۲ | ۲ | |
| 11 | Dermatology | د پوستکي ناروغي | امراض جلدی | ۳ | ۳ | ۳ | |
| 12 | Infectious disease & TB | د انتاني او توبرکلوز ناروغي | امراض انتانی و توبرکلوز | ۵ | ۵ | ۵ | |
| 13 | Neurology & psychiatry | عقلي او رواني | امراض عقلي و روانی | ٤ | ٤ | ٤ | |
| 14 | Medical Imaging | راډيولوژی | رادیولوژی | ۲ | ۲ | ۲ | |
| 15 | Forensic Medicine | عدلي طب | طب عدلی | ۲ | ۲ | ۲ | |
| | Total | | | ٦٠ | ٦٠ | ٦٠ | ۲۰ هفته (۲۰ واحد درسی (کریدت) در هر فصل درسی (سمستر) |

## د ستوماتولوژي پوهنځي نصاب

| سمستر اول | | |
|---|---|---|
| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
| ۱ | کمک‌های اولیه | ۲ |
| ۲ | تلاوت و تجوید | ۲ |
| ۳ | فزیک طبی | ۳ |
| ۴ | بیولوژی | ۳ |
| ۵ | کمپیوتر | ۱ |
| ٦ | انگلیسی | ۴ |
| ۷ | نظام اعتقادی اسلام | ۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۸ | کیمیا | ۲ |
| ۹ | بیوفزیک | ۲ |
| مجموع کریدت | | ۲۱ |

| سمستر دوم | | |
|---|---|---|
| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
| ۱ | بیولوژی | ۳ |
| ۲ | هستولوژی | ۳ |
| ۳ | اناتومی | ۴ |
| ۴ | کیمیا | ۲ |
| ۵ | انگلیسی | ۲ |
| ٦ | کمپیوتر | ۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷ | سیرت نبی | ۲ |
| ۸ | نظام عباداتی اسلام | ۲ |
| مجموع کریدت | | ۱۹ |

| سمستر سوم | | |
|---|---|---|
| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
| ۱ | اناتومی | ۴ |
| ۲ | هستولوژی | ۳ |
| ۳ | فزیولوژی | ۴ |
| ۴ | بیوشیمی | ۳ |
| ۵ | امبریولوژی | ۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ٦ | جنیتیک | ١ |
| ٧ | نظام اجتماعی | ٢ |
| ٨ | نظام اخلاقی | ٢ |
| **مجموع کریدت** | | ٢١ |

**سمستر چهارم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | فزیولوژی | ۴ |
| ٢ | بیوشیمی | ٣ |
| ٣ | مایکروبیولوژی | ٣ |
| ۴ | اناتومی | ۴ |
| ۵ | ایمونولوژی | ٣ |
| ٦ | ادیان و مذاهب | ١ |
| ٧ | معارف فکری | ٢ |
| **مجموع کریدت ها** | | ٢٠ |

**سمستر پنجم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | نظام اداری اسلام | ٢ |
| ٢ | پتالوژی | ۴ |
| ٣ | داخله عمومی | ٢ |
| ۴ | نظام سیاسی اسلام | ٢ |
| ۵ | فارمکولوژی | ٣ |
| ٦ | مایکروبیولوژی | ٢ |
| ٧ | جراحی عمومی | ٢ |
| **مجموع کریدت ها** | | ١٧ |

**سمستر ششم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | فارمکولوژی | ٣ |
| ٢ | داخله عمومی | ٢ |
| ٣ | نظام اقتصادی اسلام | ٢ |
| ۴ | جراحی وجه | ٣ |
| ۵ | پتالوژی | ۴ |
| ٦ | داخله دندان | ٢ |
| ٧ | جراحی عمومی | ٢ |
| **مجموع کریدت ها** | | ١٨ |

**سمستر هفتم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | جراحی وجه | ٣ |
| ٢ | جلدی | ٢ |
| ٣ | جراحی صدر | ٢ |
| ۴ | پروستودونتیکس | ٢ |
| ۵ | داخله اطفال | ٢ |
| ٦ | قرآن و علوم معاصر | ٢ |
| ٧ | داخله دندان | ٢ |
| ٨ | جراحی اعصاب | ١ |
| ٩ | پوروولوژی | ١ |
| **مجموع کریدت ها** | | ١٧ |

**سمستر هشتم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | داخله دندان | ٢ |
| ٢ | جراحی وجه | ٢ |
| ٣ | عقلی و عصبی | ٢ |
| ۴ | صحت عامه | ٢ |
| ۵ | انتانی و توبرکلوز | ٢ |
| ٦ | پروستودونتیکس | ٢ |
| ٧ | تمدن اسلام | ٢ |
| ٨ | گوش، گلو و بینی | ٢ |
| ٩ | رادیولوژی | ٢ |
| ١٠ | داخله اطفال | ٢ |
| **مجموع کریدت ها** | | ٢٠ |

**سمستر نهم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | داخله اطفال | ٢ |
| ٢ | پریودنتولوژی | ٢ |
| ٣ | پروستودونتیکس | ٢ |
| ۴ | طب عدلی | ٢ |
| ۵ | چشم | ٢ |
| ٦ | انستیزی | ٢ |
| ٧ | حفظ‌الصحه | ٢ |
| ٨ | جراحی وجه | ٢ |
| ٩ | داخله دندان | ٢ |
| ١٠ | اورتودنسی | ٢ |
| **مجموع کریدت ها** | | ٢٠ |

**سمستر دهم**

| شماره | مضمون | تعداد کریدت‌ها |
|---|---|---|
| ١ | ولادی نسایی | ٢ |
| ٢ | پروستودونتیکس | ٢ |
| ٣ | علوم رفتاری | ١ |
| ۴ | اورتودنسی | ٢ |
| ۵ | جراحی پلاستیک | ٢ |
| ٦ | پریودنتولوژی | ٢ |
| ٧ | جراحی اطفال | ٢ |
| ٨ | تروماتولوژی | ٢ |
| ٩ | صحت عامه | ٢ |
| **مجموع کریدت** | | ١٧ |
| **مجموع کریدت های برنامه** | | ١٩٠ |

| House Job | | | | |
|---|---|---|---|---|
| No | Subject | Duration(week) | Comments | |
| 1 | Oral & Maxillofacial surgery | 8 | | |
| 2 | Operative Dentistry & Endodontic | 8 | | |
| 3 | Paediatric & Preventive Dentistry 8 | 8 | | |
| 4 | Periodontology | 4 | | |
| 5 | Prosthodontics | 8 | | |
| 6 | Oral medicine | 3 | | |
| 7 | Orthodontics | 6 | | |
| 8 | Reconstructive & plastic surgery | 2 | | |
| 9 | Rational medicine uses & Prescription writing methods | 1 | | |
| | **Total Weeks** | **48** | | |

# د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي نصاب

## الف: د حقوقو څانګې نصاب

| سمستر اول | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود | نوع مضمون | تعداد کریدیت | ساعت های درسی هفته وار | | |
| | | | | | نظری | عملی | ساحوی | مجموعه |
| 1 | مبادی حقوق۱ | LP-LA 0106 | اساسی | 3 | 3 | | | 3 |
| 2 | اساسات حقوق اسلام | LP-LA 0107 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 3 | مبانی علم سیاست | LP-LA 0109 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 4 | مبادی فقه | LP-LA 0110 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 5 | مبادی اقتصاد عامه | LP-LA 0111 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 6 | انګلیسی | Li-En 0102 | پوهنتون الشمول | 2 | 2 | | | 2 |
| 7 | تاریخ معاصر افغانستان | Ss-Hi 0105 | پوهنتون الشمول | 2 | 2 | | | 2 |
| 8 | تاریخ حقوق جزا | LP-LA0114 | اختیاری | 1 | 1 | | | 1 |
| 9 | تجوید و تلاوت | SL-IC 0101 | پوهنتون الشمول | 1 | 1 | 1 | | 2 |
| 10 | نظام اعتقادی اسلام | SL-IC 0101 | پوهنتون الشمول | 2 | 2 | | | 2 |
| **مجموعه** | | | | **19** | **19** | **1** | | **20** |
| **سمستر دوم** | | | | | | | | |
| شماره | مضمون | کود | نوع مضمون | تعداد کریدیت | ساعت های درسی هفته وار | | |
| | | | | | نظری | عملی | ساحوی | مجموعه |
| 1 | د اسلام عبادتي نظام | SL.IC 0202 | ټول شموله | ۲ | ۲ | | | ۲ |
| 2 | نبوي سيرت | SL.IC. 0202 | ټول شموله | ۲ | ۲ | | | ۲ |
| 3 | مبادی حقوق۲ | LP-LA0206 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 4 | حقوق محیط زیست | LP-LA 0216 | تخصصی | 2 | 2 | | | 2 |
| 5 | حقوق سازمان های بین المللی | LP-LA 0217 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 6 | متون فقهی-حقوقی | LP-LA 0218 | تخصصی | 2 | 2 | | | 2 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 7 | سیستم های حقوق معاصر | LP-LA 0219 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 8 | حقوق حمایت از مصرف کننده | LP-LA 0220 | تخصصی | 2 | 2 | | | 2 |
| 9 | اخلاق و سلوک مسلکی | LP-LA 0221 | اساسی | 2 | 1 | 2 | | 3 |
| 10 | حقوق رسانه ها | LP-LA 0222 | تخصصی | 2 | 2 | | | 2 |
| 11 | انگلیسی | Li-En0102 | پوهنتون الشمول | 2 | 2 | | | 2 |
| **مجموعه** | | | | **22** | **21** | **2** | | **23** |

**سمستر سوم**

| شماره | مضمون | کود | نوع مضمون | تعداد کریدیت ها | ساعت های درسی هفته وار | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | نظری | عملی | ساحوی | مجموعه |
| 1 | د اسلام اخلاقي نظام | SL.IC 0301 | ټول شموله | ۲ | ۲ | | | ۲ |
| 2 | ټولنیز نظام | SL.IC. 0301 | ټول شموله | ۲ | ۲ | | | ۲ |
| 3 | حقوق جزای عمومی۱ | LP-LA 0323 | اساسي | ۲ | ۲ | | | 2 |
| 4 | حقوق وجایب۱ | LP-LA 0324 | اساسی | ۲ | ۲ | | | 2 |
| 5 | حقوق مالی۱ | LP-LA 0325 | اساسي | ۲ | ۲ | | | 2 |
| 6 | حقوق اساسی۱ | LP-LA 0326 | اساسي | ۲ | ۲ | | | ۲ |
| 7 | کریمنالوژی | LP-LA 0327 | تخصصی | ۲ | 1 | 2 | | 3 |
| 8 | حقوق مالکیت های معنوی | LP-LA 0328 | تخصصی | ۲ | ۲ | | | 2 |
| 9 | حقوق کار | LP-LA 0329 | تخصصی | ۲ | ۲ | | | 2 |
| 10 | حقوق جزای اسلام | LP-LA 0330 | تخصصی | ۲ | 2 | | | 2 |
| 11 | جزا شناسی | LP-LA 0331 | تخصصی | ۲ | 1 | 2 | | 3 |
| **مجموعه** | | | | **۲۲** | **20** | **4** | | **24** |

**سمستر چهارم**

| شماره | مضمون | کود | نوع مضمون | تعداد کریدیت | ساعت های درسی هفته وار | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | نظری | عملی | ساحوی | مجموعه |
| 1 | فکري پوهنه | SL.IC 0401 | ټول شموله | ۲ | ۲ | | | ۲ |
| 2 | ادیان او مذاهب | SL.IC. 0401 | ټول شموله | ۱ | ۱ | | | ۱ |
| 3 | حقوق جزای عمومی۲ | LP-LA 0423 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 4 | حقوق وجایب۲ | LP-LA 0424 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 5 | حقوق مالی۲ | LP-LA 0425 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 6 | حقوق اساسی۲ | LP-LA 0426 | اساسی | 2 | 2 | | | 2 |
| 7 | نگارش حقوق۱ | LP-LA 0432 | کار عملی و منوگراف | 2 | 1 | 2 | | 3 |
| 8 | حقوق معادن | LP-LA 0433 | تخصصی | 2 | 2 | | | 2 |
| 9 | کریمنالستیک | LP-LA 0434 | تخصصی | 2 | 1 | 2 | | 3 |
| 10 | اصول فقه | LP-LA 0435 | تخصصی | 3 | 3 | | | 3 |
| 11 | کمپیوتر | Cs-Is 0403 | پوهنتون الشمول | 1 | | 2 | | 2 |
| **مجموعه** | | | | 21 | 18 | 6 | | 24 |

**سمستر پنجم**

| شماره | مضمون | کود | نوع مضمون | تعداد کریدیت | ساعت های درسی هفته وار | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | نظری | عملی | ساحوی | مجموعه |
